مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۲/۰۸/۱۴

# غـزل

د درد له اخه په سپېرو شونډو موسکا جوړوي
هغه د پټې مینې لاج ساتي لیلا پسې ژاړي

شپه د نکریزو، سهیلۍ او خنداګاني مستي
میره تیاره خونه کې ناسته ده خدا چا پسې ژاړي

لمحه لمحه مرګ ته لنډېږیم ناخبره ژونده
بې واکه زړه مې د اشنا زړه په درزا پسې ژاړي

څوک د قبولو ښېراګانو قبولیت نه غواړي
څوک له اسمانه په منسوخې شان دعا پسې ژاړي

چې نور یې ویوښتي د اوښکو له روان سیلابه
سمسوره نوم مې چورۍ نه اخلي او ما پسې ژاړي

۷/ ۶/ ۲۰۲۱


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ